**د دعوت د يوه حامل د وفات خبر**

يو ستر اسلامي شخصيت او په ليبيا کې د حزب التحرير يو مخکښ، انجنير علي محمد کجيجي له دې فاني نړۍ وکوچېد. له الله سبحانه و تعالی نه ورته رحمت او جنت غواړو. هغه يې له خپلو ملګرو؛ محمد مهذب حفاف، حسن کردي، عبدالله مسلاتي، عبدالرحمن بيوض، صالح نوال، خليفه کميشي، عبدالله حموده، ماجد قدسی، عمرو نامی، محمد عمر نعاس او ډېرو نورو سره يوځای شو چې هيڅکله يې د الله په دين کې تغير او تبديل را نه وست او د دې نړۍ په مادياتو يې ونه پلوره؛ موږ د الله سبحانه و تعالی په وړاندې د دوی تزکيه نه کوو کوو؛ څکه چې له پټو نيتونو او رازونو يوازې هغه سبحانه و تعالی خبر دی.

هغه رحمه الله عليه، له هغو کسانو و چې د طاغوت پر وړاندې ودرېد او دې دنيا – چې يوازې د الله تعالی په اختيار کې ده او بل هيڅکوم مالکيت نه پرې لري- فريب ور نه کړ. د دغه ستر شخصيت خبرې به هېرې نه شي؛ تر ۱۵ کاله زندان تېرولو او له اسلامي باورونو د هغه د منصرف کولو له هڅو وروسته يې د ازادۍ لپاره يو د طاغوت ملګری ورته راغئ او ترې ويې پوښتل: «اې کجيجي، ايا خپل نظر دې نه دی بدل کړی؟» هغه ځواب ورکړ: «ته د رايې سړی نه يې چې بحث درسره وکړم.» او تر دې وروسته يې له خپلو ملګرو سره ۱۵ کاله نور هم په زندان کې تېر کړل؛ د الله سبحانه و تعالی تقدير همداسې و.

إنا لله وإنا إليه راجعون. الله تعالی دې هغه ته پرېمانه رحمتونه او په جنت کې پراخ ځای ورکړي؛ الله سبحانه و تعالی دې هغه ته له خپلو ملګرو سره په کوثر حوض کې او د رسول الله صلی الله عليه وسلم په څنګ کې ځای ورکړي. کورنۍ ته يې د الله سبحانه و تعالی له دربار څخه صبر غواړو. الله تعالی دې يې خالي ځای په خير او برکت ډک کړي.

د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر

۱۴۴۶هـ.ق کال د جمادي الاول ۲۹مه

۲۰۲۴م کال د ډسمبر ۱

د صدور ګڼه: ۰۵۷/۱۴۴۶